د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 441**

(01 اسد – 05 اسد 1403 هـ ش)

## روسيې ته د هند د لومړي وزير سفر: د افغانستان قضيه



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- روسيې ته د هند د لومړي وزير سفر: د افغانستان قضيه ................................................ 3
- روسيې ته د هند دلومړي وزير سفر او له امريکا متحده ايالاتو سره يې پر اړيکو اغيزې ................. 4
- د اسلامي امارت په اړه د هند او روسيې ګډ دريځ ...................................................... 5
- د اسلامي امارت سره د هند او روسيې د تعامل توپيرونه ............................................ 6
- د افغانستان قضيې په اړه د مودي او پوټين ګډه اعلاميه ............................................. 7
- پايله ....................................................................................................... 7
- وړانديزونه ................................................................................................ 8
- مأخذونه ................................................................................................... 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## روسیې ته د هند د لومړي وزیر سفر: د افغانستان قضیه

**سریزه**

د سړې جګړې پرمهال هند د شوروي اتحاد ملګری او متحد و. کله چې په ۱۹۷۹ز. کال کې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، نو هند له دغه یرغل څخه ملاتړ وکړ او د شوروي اتحاد طرف یې ونیو. له سړې جګړې وروسته په ۲۰۰۰ز. کال کې هند او روسیې د ستراتیژیک پارټنرشپ تړون لاسلیک کړ[1] او دغه تړون د دواړو هېوادونو د اتحاد او ملګرتیا بنسټ کېښود. هند په ۲۰۰۵ز. کال کې د امریکا متحده ایالاتو سره هم د ستراتیژیک پارټنرشپ تړون لاسلیک کړ او د دې تړون وروسته د هند او امریکا متحده ایالاتو د ملګرتیا یو نوی دور پیل شو.

له ۲۰۰۵ز. کال وروسته هند په بهرني سیاست کې د یوې لویې ستونزې سره لاس او ګریوان شو او هغه دا چې د دوه لویو قدرتونو روسیې او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ باید په اړیکو کې توازن وساتي او دغه توازن ځینې وخت د هند لپاره ستونزمن شوی دی. کله چې روسیې په ۲۰۲۲ز. کال د فبروري پر ۲۴مه نېټه پر اوکراین برید وکړ[2]، نو هند په یو بل امتحان کې وغورځېد، ځکه له یوې خوا ناټو او د امریکامتحده ایالاتو ملګرو دغه برید وغنده او دا یې د اوکراین پر خاوره تجاوز وګاڼه او له بلې خوا امریکا متحده ایالاتو له هند هم د یو ملګري په توګه تمه درلوده چې دغه برید وغندي، خو هند نه غوښتل چې د روسیې سره خپله تاریخي ملګرتیا خرابه کړي، نو د دې برید په اړه یې سکوت اختیار کړ، خو د ۲۰۲۴ز کال تر جولای میاشت پورې د هند لومړي وزیر د روسیې ولسمشر پوټین سره ونه لیدل، تر دې چې د ۲۰۲۴ز. کال د جولای پر دربیمه او څلورمه نېټه په قزاقستان کې د شانګهای په ناسته کې یې هم ګډون ونکړ[3] او هند دا کار په دې موخه وکړ چې لږ تر لږه د امریکا متحده ایالاتو او روسیې ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي. د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوټین د بیاځلي ټاکل کېدو وروسته په خپل بهرني سیاست کې د خپلو ځینو اوسنیو او ځینو پخوانیو متحدو هېوادونو ته سفرونه پلان کړل چې له دې جملې یې شمالي کوریا، ویتنام، بېلاروس، ازبکستان، چین او ځینو نورو هېوادونو ته سفرونه وکړل[4]، خو د دې سفرونو په لړۍ کې پوټین هند ته سفر پلان نه کړ چې دا خپله هند ته د اندېښنې وړ وه، خو د دې سفرونو له ډلې چین ته د پوټین سفر په ځانګړي ډول هند ته اندېښنه پېداکړه او هند په دې فکر کې شو چې هسې نه د روسیې او چین نږدې کېدونکو اړیکو کې داسې نشي چې هند د روسیې سره خپله تاریخي ملګرتیا له لاسه ورکړي، نو له همدې امله د هند لومړي وزیر نریندرا مودي روسیې ته خپل سفر پلان کړ او د ۲۰۲۴ز. کال د جولای پر ۸مه نېټه یې مسکو ته سفر وکړ.[5] په دې سفر کې دواړو هېوادونو د خپلمنځي اړیکو په قوي کولو، اقتصادي همکاریو او د اوکراین شخړې ترڅنګ د افغانستان پر حالاتو هم بحث کړی دی. په دې تحلیلي لیکنه کې به له یوې خوا روسیې ته د هند لومړي وزیر د تګ پر

اغیزو بحث وکړو او له بلې خوا د افغانستان د قضیې په اړه د دواړو هېوادونو له لوري په خپره شوې اعلامیه کې د دوي ګډ دریځ بحث کړو.

## روسیې ته د هند دلومړي وزیر سفر او له امریکا متحده ایالاتو سره یې پر اړیکو اغیزې

د هند لومړی وزیر نریندر مودي د ۲۰۲۴ز. کال د جولای پر ۸مه نېټه مسکو ته سفر وکړ او د روسیې جمهور رئیس ولادیمیر پوتین سره یې ولیدل. په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د قوي کولو او نورو بېلابېلو برخو کې پر همکارۍ خبرې وشوې، خو درې موضوعات په کې ډېر مهم وو چې د غرب او په ځانګړې ډول د امریکا متحده ایالاتو غبرګون یې راوپاروو: یو دا چې دواړو لوریو هوکړه وکړه چې تر ۲۰۳۰ز. کال پورې به دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې له ٦٥ میلیارده ډالرو څخه تر ۱۰۰ میلیارده ډالرو پورې ورسوي چې په دې کې د روسیې د تېلو پېرنه هم شامله ده او هند له چین وروسته د روسیې د تېلو د پېرلو دویم ستر هېواد دی، سره له دې چې د روسیې د تېلو په پېرلو غرب بندیزونه هم لګولي دي. دویم دا چې دواړو هېوادونو د نظامي اړیکو پر پیاوړتیا هم بحث وکړ او د وسلو د تولید او د پېر او پلور په برخه کې پر همکارۍ یې هم هوکړه وکړه او درېیمه موضوع دا چې دواړو لوریو هوکړه وکړه چې سوداګریزې اړیکې او د توکو پېر او پلور به د ډالرو پرځای پر ملي کرنسیو کوي.[6]

د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ویاند میتیو میلر د دې سفر په غبرګون کې رسنیو ته وویل: امریکا متحده ایالات د دې سفر په اړه ښکاره اندېښنه لري، ځکه روسیه د اوکراین د جګړې له امله د بندیزونو لاندې ده او داسې نشي چې د هند اړیکې دا بندیزونه بې اغېزې کړي او موږ هڅه کوو چې هند ټولو هغو کړنو ته وهڅوو چې له لارې یې په اوکراین کې سوله راشي.

د اوکراین ولسمشر زیلنسکي هم دې سفر ته غبرګون ښودلی او په X پاڼه یې لیکلي دي: افسوس خبره ده چې د هند لومړی وزیر په اوکراین کې د کوچنیانو او ښځو قاتل ته غاړه ورکوي.

د هند لپاره دا سفر واقعاً سخته پرېکړه وه، ځکه هند په تېرو څو کالونو کې د امریکا متحده ایالاتو سره ډېرې نږدې اړیکې رامنځته کړې دي او څو کاله یې پر دغو اړیکو پانګونه کړې ده، خو هند غواړي چې له دغه سفر څخه دوه اهداف ترلاسه کړي: یو دا چې د روسیې په څېر تاریخي ملګری له لاسه ورنکړي او دویم دا چې په راتلونکي څو قطبي بین المللي نظام کې ځان یوازې په یو قدرت پورې متکي نه کړي او د دې سفر له لارې یې دا وښوده چې هند یوازې پر امریکا متحده ایالاتو متکي نه دی بلکې دوی خپلواک بهرنۍ سیاست لري او غواړي د روسیې او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي او د همدې توازن ساتلو په موخه د هند لومړی وزیر نریندر مودي روسیې ته سفر وکړ، په همدې ۲۰۲۴ز. کال کې به د کواډ اتحاد چې استرالیا، جاپان، امریکا متحده ایالاتو او هند یې غړي، کوربتوب وکړي او په همدې کال کې به یو ځل بیا بریکس



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

غونډه کې د ګډون په موخه روسيې ته سفر وکړي، چې دا خپله د دواړو قدرتونو ترمنځ د توازن ساتلو بېلګې او کړنې دي.

بله مهمه موضوع دا چې په امريکا متحده ايالاتو کې ځو څېړنيزو مرکزونو د امريکا متحده ايالاتو راتلونکو ټاکنو په اړه سروې ګانې کړي دي، چې اکثرو سروي ګانو کې ټرمپ مخکښ ښودل شوی د او هند فکر کوي چې د ټرمپ په راتګ سره به د روسيې په اړه د امريکا متحده ايالاتو سياست نرم او د چين په اړه به سخت شي او له همدې امله مودي په ډاډه زړه روسيې ته سفر وکړ، ځکه هند فکر کوي که ټرمپ واک ته راشي، نو له هند سره به له دې امله اړيکې خرابې نه کړي چې ولې مودي روسيې ته سفر کړی، ځکه هغه به خپله روسيې خلاف خپل سياست رانرم کړي.[7]

## د اسلامي امارت په اړه د هند او روسيې ګډ دريځ

هند او روسيه په سيمه او افغانستان کې ځينې ګډې ګټې او موخې لري. دواړه هېوادونه په سيمه او افغانستان کې د امنيتي ننګونو په مقابل کې له يو او بل سره همکاري کوي.

دواړو هېوادونو د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو له لوري جوړه شوې د دوحې په درېيمه ناسته کې ګډون وکړ او له دې ناستې يې ملاتړ هم وکړ. دواړه هېوادونه له اسلامي امارت سره په اړيکه کې دي، البته د اړيکې ډول او کچه يې سره توپير لري.

په افغانستان کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته روسيه فکر کوي چې د دوي امنيت ته ګواښ زيات شوی دی، ځکه د ۲۰۲۴ز. کال د مارچ په مياشت کې په مسکو کې بريد وشو چې د بريد مسؤليت د خراسان اسلامي دولت پر غاړه واخيسته او روسيي استخباراتو اعلان وکړ چې دغه بريد د افغانستان او پاکستان له جغرافيې پلان شوی دی[8]، په دغه بريد کې څه د پاسه ۱۴۰ نفره ووژل شول. همدارنګه په ۲۰۲۲ز. کال په کابل کې د روسيې دوه ډيپلوماتان هم ووژل شول. هند هم د افغانستان جغرافيه خپل امنيت ته ګواښ ګڼي، دوي فکر کوي چې په کشمير کې د دوي خلاف جنګېدونکي خلک د افغانستان په خاوره کې روزل کېږي، هلته ساتل کېږي او بيا له هغې ځايه کشمير ته راځي او هلته جنګيږي، خو دا کړنه تر ډېره په افغانستان کې د ناامنۍ شرايطو پوره اړه لري، نو د افغانستان په اړه د هند او روسيې بل ګډ دريځ دا دی چې په افغانستان کې ثبات او امن وي[9] او کله چې په افغانستان کې ثبات رامنځته شي، نو پر روسيې او هند بريد کوونکو ته به د پټېدو او روزنې ځای په لاس ورنشي.

د افغانستان په اړه د دواړو هېوادونو بل ګډ دريځ دا دی چې دواړه هېوادونه هڅه کوي چې اسلامي امارت د ځو اړخيزې ډيپلوماسۍ له لارې په رسميت وپېژني، يعنې دواړه هېوادونه غواړي چې د سيمې د هېوادونو سره



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په ګډه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه تصمیم ونیسي او په انفرادي ډول د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې څخه ډډه وکړي.

## د اسلامي امارت سره د هند او روسیې د تعامل توپیرونه

سره له دې چې هند او روسیه د اسلامي امارت په اړه ځینې ګډ دریځونه لري، خو له اسلامي امارت سره د تعامل په برخه کې بیا د دواړو هېوادونو تګلارې توپیر لري چې دلته پرې لنډ بحث کوو.

د اسلامي امارت بیاځلي واکمنۍ وروسته سره له دې چې روسیې د افغانستان له لوري امنیتي ګواښونو په اړه اندېښنه درلوده، خو په مجموع کې له سیمې څخه د امریکا متحده ایالاتو وتلو ته خوښ بریښېدل، خو هند بیا د دوه لاملونو پر بنسټ د اسلامي امارت راتګ ته خوښ نه و: یو د اسلامي امارت د تېرې واکمنۍ پرمهال د هند او اسلامي امارت د اړیکو خرابوالی او دویم هند فکر کوي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت واکمنۍ سره به په دغه هېواد کې د پاکستان نفوذ زیات شي او دا د هند د ملي ګټو خلاف کار دی.

بل دا چې د اسلامي امارت بیاځلي واکمنۍ وروسته روسیې په کابل کې خپل سفارت پرانیستی پرېښود او د اسلامي امارت سره یې مستقیم تعامل ته مخه کړه، خو هند د اسلامي امارت بیاځلي راتګ وروسته په کابل کې خپل سفارت بند کړ او بیا وروسته یې یوازې د تخنیکي ټیم په لېږلو سره پرانېست، چې یوازې د بشري مرستو د تنظیم چارې به پرمخ وړي او د هند دا ډول سفارت پرانېستنه د روسیې سفارت پرانېستنې سره ډېر توپیر لري، ځکه روسیه افغان سوداګرو او محصلینو ته ویزې ورکوي او اکثره وخت دولتي چارواکي هم هلته سفر کوي، خو هند دا دریم کال په پوره کېدو دی چې محصلینو او عامو وګړو پرمخ یې ویزې بندې کړې او ډېر محصلین بې سرنوشته پاتې شوي دي.

همدارنګه د ۱۴۰۱ هـ.ل. کال په اوایلو کې روسیې د اسلامي امارت ډیپلومات په مسکو کې په افغان سفارت کې د شارژدافیر په توګه ومانه او دا خپله د ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګولو یو تدریجي اقدام دی، خو هند لا تراوسه هم په ډهلي کې د افغان سفارت لپاره د اسلامي امارت ډیپلومات او بېرغ نه دی منلی.

بله مهمه موضوع دا ده چې د ۱۴۰۳هـ.ل. کال په لومړیو کې روسیې خبر ورکړ چې هڅې یې روانې کړې دي چې اسلامي امارت د ترهګرو سازمانونو له لست څخه وباسي[10] او په دې اړه یې د مرکزي اسیا هېوادونو ته هم شین څراغ ورکړی دی او د همدې شین څراغ پر بنسټ قزاقستان پرېکړه کړې ده چې اسلامي امارت د ترهګرو له لست څخه وباسي، خو د هند د دریځ نه داسې معلومېږي چې هغوی به دا کار تر ډېره وخت پورې ونکړي، ځکه هغوی لا د تعامل په برخه کې د سیمې د هېوادونو په پرتله ډېر وروسته پاتې دي.

لنډه دا چې روسیه غواړي د اسلامي امارت سره په مستقیم ډول دخیل شي او ورسره تعامل وکړي، خو دې مستقیم تعامل ته په تدریجي ډول پراختیا ورکوي او هند فعلاً د اسلامي امارت پر وړاندې د څار او انتظار



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پالیسي (Watch and Wait Policy) غوره کړې ده، د هند دې پالیسي ته ستراتیژیک صبر هم ویل کېږي یعنې هند د اسلامي امارت پالیسي مطالعه کوي او کله یې هم چې د اسلامي امارت د پالیسیو په اړه ډاډ ترلاسه کړ له هغې وروسته به له اسلامي امارت سره په رسمي ډول اړیکې ټینګوي.

## د افغانستان قضیې په اړه د مودي او پوټین ګډه اعلامیه

روسیې ته د نریندر مودي له سفر وروسته دواړه لوریو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه او په هغه اعلامیه کې د افغانستان قضیه هم یاده شوې وه. دواړه لوریو د افغانستان په اړه په لاندې موضوعاتو سره خبرې کړې دي:

۱- امنیتي ننګونې او حالات او پر سیمه یې اغیزې؛

۲- د افغانستان اوسني سیاسي حالات؛

۳- د ترهګرۍ اړوند مسایل؛

۴- اسلامي سختدریځي؛

۵- او د نشه یي توکو قاچاق.

دواړو لوریو په دې تاکید وکړ چې دوی په افغانستان کې یو باثباته، خپلواک او متحد افغانستان غواړي. همدارنګه دواړو لوریو په افغانستان کې د بشري حقوقو په رعایت، ترهګرۍ سره په مبارزې او له ګاونډیو هېوادونو سره په سوله کې په اوسېدو هم تاکید وکړ.

دواړو مشرانو د ترهګرۍ پر وړاندې په ځانګړي ډول د داعش په مقابل کې د اسلامي امارت مبارزه وستایله او د اسلامي امارت دغه مبارزه یې د سیمې هېوادونو لپاره مهمه او ارزښتناکه وګڼله. همدارنګه دواړو هېوادونو هوکړه وکړه چې د افغانستان خلکو سره به پرته له سیاسي غوښتنو او مسایلو په نظر کې نیولو سره بشري مرستې کوي.[11]

## پایله

هند او روسیه دوه تاریخي ملګري او د اسیا ستر قدرتونه دي. پر اوکراین د روسیې له برید وروسته د دواړو هېوادونو د ملګرتیا د ازماېښت دوره پیل شوه او نږدې دوه نیم کاله کېده چې د دواړو هېوادونو مشرانو په رسمي سفر د یو او بل هېواد ته نه وو تللي، دا اوکراین له جګړې وروسته دا لومړی ځل و چې د دواړو هېوادونو مشران سره په لوړه کچه ګوري. دې سفر د غرب او په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالات غبرګون راوپاروو، خو هند وایي چې دوی د امریکا متحده ایالاتو سره ملګرتیا لري، خو دا ملګرتیا هیڅکله د روسیې سره د اړیکو د پرېکون په قرباني سره نشي پاللی.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هند او روسيه په افغانستان کې د امنيت او ثبات په اړه همنظره دي، ځکه دوی وايي چې په افغانستان کې امنيت د سيمې د امنيت د تأمين په معنی دی. همدارنګه دواړه هېوادونه په افغانستان کې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه او نشه يي توکو د قاچاق د مخنيوي په برخه کې هم همنظره دي.

د هند او روسيې دواړو مشرانو په خپل وروستي ملاقات کې د افغانستان په اړه سره خپل نظريات شريک کړل، د داعش په مقابل کې يې د اسلامي امارت مبارزه وستايله او له افغانانو سره يې د سياسي ملاحظاتو په نظر کې نيولو پرته د بشري مرستو په رسولو ټينګار وکړ. لنډه دا چې روسيه غواړي له اسلامي امارت سره په تدريجي ډول خپلې اړيکې قوي کړي، نو اسلامي امارت کولای شي د روسيې په منځګړيتوب له هند سره خپلې اړيکې ورغوي.

## وړانديزونه

۱- په افغانستان کې امنيت او ثبات د هند او روسيې په ګډون د ټولې سيمې په ګټه دی، نو هند او روسيه دې هڅه وکړي چې د سيمې د نورو هېوادونو سره په ګډه د افغانستان د امنيت او ثبات لپاره همغږي رامنځته کړي او د هغو شريرو قدرتونو مخه ونيسي چې د افغانستان امنيت او ثبات ته ګواښ پېښوي.

۲- اسلامي امارت بايد د هند او چين او روسيې او امريکا متحده ايالاتو ترمنځ په خپلو اړيکو کې توازن وساتي، تر څو افغانستان يو ځل بيا د لويو قدرتونو د سيالۍ ډګر نشي.

۳- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د روسيې سره د خپلو نږدې اړيکو څخه په ګټنه، د روسيې له لارې هند ته ډاډ ورکړي چې د دوی خاوره به هيڅکله د هغوی پر ضد استعمال نشي او اسلامي امارت له هند سره نږدې او دوستانه اړيکې غواړي.

۴- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د سيمې د هېوادونو او په ځانګړې ډول لويو قدرتونو سره په اړيکو کې د تقابل پرځای له تعامل څخه کار واخلي.

۵- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د افغانستان په اړه د سيمې د هېوادونو ترمنځ همغږي رامنځته کړي، تر څو په افغانستان کې دايمي امنيت او ثبات رامنځته شي.

## مأخذونه

[1] Ministry of External Affairs of India, India-Russia Relations, June 2024, Access link: https://www.mea.gov.in/Portal/ForeignRelation/India-Russia_june_2024.pdf
[2] Visual Journalism Team, Ukraine in maps: Tracking the war with Russia, 17 May 2024, Access link: Ukraine in maps: Tracking the war with Russia

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[3] Geeta Mohan, PM Modi to skip SCO summit in Kazakhstan, S Jaishankar to represent India, India Today, July 2024, Access link: https://www.indiatoday.in/india/story/shanghai-cooperation-organisation-summit-kazakhstan-prime-minister-narendra-modi-india-2557031-2024-06-24

[4] Kremlin, Trips of President Putin, July 16, 2024, Access link: http://en.kremlin.ru/events/president/trips

[5] Rhea Mogul, India’s Modi lands in Russia for talks with Putin in first visit since start of Ukraine war, CNN, July 8, 2024, Access link: India’s Modi lands in Russia for talks with Putin in first visit since start of Ukraine war

[6] Paul Sonne and Anupreeta Das, Modi’s Moscow Visit Showcases a Less Isolated Putin, Angering Ukraine, New York Times, July 9 2024, Access link: https://www.nytimes.com/2024/07/09/world/europe/russia-india-modi-moscow-putin.html

[7] Sanjay Kapoor, Behind Modi’s Putin hug: Is India betting on Trump winning in November? Aljazeera, 16 July 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/7/16/behind-modis-putin-hug-is-india-betting-on-trump-winning-in-november

[8] Kabir Taneja, Afghan common ground in India-Russia relations, Hindustan Times, July 10, 2024, Access link: https://www.hindustantimes.com/opinion/afghan-common-ground-in-india-russia-relations-101720627046608.html

[9] Ibid.

[10]. RUSSIAN NEWS AGENCY. "Russia considers removing Taliban from list of terrorist organizations", TASS website, available at: https://tass.com/politics/1768807

[11] Ariana News, Putin and Modi Meet in Moscow, discuss Afghanistan situation, July 10, 2024.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000

+93780618000